## د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک د نیمروز، فراه او غور نمایندګیو لپاره د سولري سیستم چمتو او نصب کولو د تشخیصیه شمیره DAB/1405/NCB/W18 د مهراز عمران ودانیز او سړک جوړونی شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 108860 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې عرفان شهرک، هرات مرکز کې دی د تړون ټولیزه بیه (3,162,910) دري میلیونه یو سلو دوه شپیته زره نه سوه او لس افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر پنځه تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کیږی.